ډاکتر سید نصیر احمد ۲۰۱۱/۰۷/۲۳

# بي بي حاجي ډاکتره عاقله حکمت چې ما پېژندله

نن مې په برېښنا پاڼو کې يو زړه بوږنونکې خبر ولوست. په خبر کې راغلي ول، چې امريکايانو د افغان ولس په بې وزلو بيا ځمکه په وينو سره کړه او د کابل کندهار په لويه لار يې د سيد آباد په سيمه کې ملکي خلک وويشتل، چې يو شمېر يې د ډاکترې عاقلې په شمول په شهادت ورسول او نور يې ټپيان کړل، نو پرنګي نن بيا يو شمېر کورنۍ د وېر په ټغر کېنولې او يو شمېر هلکان او نجونه يې يتيمان کړل او د مور له مينې او سپورې يې محروم کړل.

بي بي حاجي زما د ترور لور وه او په کابل کې يې دې نړۍ ته سترګې غړولې وې. ما وروسته له ډېرې مودې خپله د ترور لور په ۱۳۶۲ لېږديز کال په قلعه واحد د دوی په کور کې وليدله. هغه مهال بي بي حاجي د طب پوهنتون په پنځم کال کې وه او زه په يوولسم ټولګي کې د حبيبيې په ليسه کې وم. وروسته د ماسپښين له ډوډۍ مو د انسان د جينتيک په اړه بحث شو. ما هغه مهال ډېر څه له بي بي حاجي ډاکترې عاقلې زده کړل، چې له حقه تېر نه شم، د بي بي حاجي هغه بحث او توضېحاتو زه ډېر اغېزمن کړم، چې وروسته له ښوونځي زما د مسلکي زده کړو په ټاکنه کې يې غوره رول ولوباوه.

کله چې ما ښوونځی پای ته ورساوه، نو زه هم له هېواده بهر ته د لوړو زده کړو لپاره ولاړم، خو د افغانستان ژوند داسې له کړکېچونو ډک شو، چې ما او همدا ډول ډېرو نورو افغانانو د دې امکانات نه درلودل، چې افغانستان ته ستانه شي، چې خپل خپلوان له نېژدې ووينې او د خپلوانو له بشري مينې مستفيد شي، خو له بده مرغه په افغانانو داسې ټکه رالوېدلې ده، چې يوه غميزه لا پای ته نوې رسېدلې، دويمه ټکه پرې راولوېږي، نو د افغانستان له بدمرغيو سره سم ما هم له خپلوانو سره اړيکې نه درلودې او له خپلې کورنۍ او بي بي حاجي سره هم زما اړيکې وشړېدلې.

د ۲۰۰۶ ميلادي کال په بهير کې زه په دې وتوانېدم، چې افغانستان ته لاړ شم. په افغانستان کې مې د افغاني غميزې پړهارونه د افغانستان د بېلابېلو ولايتونو او ښارونو د دېوالونو پر مخ وليدل. ما أورېدلي ؤ، چې په ځينو ملکونو کې مجرمين چانواري کېږي، خو په افغانستان کې هر شی له انسانه نېولې تر حيوانه پورې چانواري شوي ول، چې حتی دېوالونه هم لکه چلوصاف سوروي سوروي ول او د پوهې مرجعې څه چې جوماتونه هم په کنډوالو اوښتي ول.

په ۲۰۰۶ کال د بي بي حاجي کره غزني ته هم لاړم، خورا مېلمه پاله وه. اوس نو هغه پېغله ډاکتره نه وه، مګر د څو زامنو او لوڼو مور وه او په سيمه کې د نسايي او ولادي متخصصه وه. شهيدې عاقلې به ډېر ښه پوهنيز بحث کاوه او تل به يې د روغتياپالنې په اړه پوښتنې کولې. ما په لوېديزه نړۍ کې ژوند کړی او کار مې هم په لوېديزه ټولنه کې دی، خو د بي بي حاجي پوهه د پراخې تجربې پر بنسټ ولاړه وه، نو د هرې ناروغې يو ځانګړی انځور يې درلود. بي بي حاجي به تل د افغانانو د ناخوالو او په تېره د بې سوادې او ناپوهې په اړه ځورېدله، مګر هېڅکله نه ناامېده کېدله او د خلکو په روغتياپالنه کې يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کولې او د افغانستان له ټولو ناامنيو سره بيا هم له هېواده بهر ته ولاړه نه او تل له خپلو خلکو سره پاتې شوه او د خلکو په درملنه کې يې ونډه واخيسته.

سږ ۲۰۱۱ ميلادي کال د مارچ په مياشت کې زما پلار مرحوم سيد عبدالاحمد بلبل نوربابا په حق ورسېد، زه هم کابل ته تللی وم، د حمل په مياشت کې مې بيا بي بي حاجي پخپل کور کې په کابل کې وليدله. له نېکه مرغه زما د کورنۍ ګڼشمېر غړي د لوړو زده کړو خاوندان دي، خو هرڅوک خپل ځای لري، نو مېرمن عاقلې هم زموږ په کورنۍ کې يو ځانګړی ځای درلود. مېرمن عاقله د طب ډاکتره وه او د نسايي ولادي په برخه کې ځانګپوهه وه، چې په افغانستان کې د دا ډول لوړو زده کړو مېرمنې د ګوتو په شمار دي.

بي بي حاجي ډاکتره عاقله د غوره اخلاقو څښتنه وه، د خپلو اولادو لپاره يوه مهربانه مور وه، د ورونړاو خويندو لپاره يو زړه سواندې خور وه، خو زما لپاره زما دمسلکې ببړۍ رڼا وه، چې لاره يې راته لکه سپوږمۍ روښانه کړې وه او بيا زما همسلکه وه، نو د بي بي حاجي شهادت که د کورنۍ لپاره يې ستره غميزه ده، نو زما لپاره د ځانګپوهنې په برخه کې يوه ستره بدمرغي ده، چې خدايزده، چې بل څوک به د دغه ستر شخصيت ځای بيا ډک



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

کړي او د افغانستان د روغتیایی سیستم دغه ستره ضایعه به جبران کړي. ډاکتر به ډېر وروزل شي، خو بي بي عاقله به بیا پیدا نه شي.

د کابل په دیدار کې مو د شپو تر ناوخته د کورنۍ له نورو غړو سره یو ځای د مشرانو او پلرګنیو د ژوندو او مړو یادون وکړ او د مغفرت دعاوې مو وکړې، خو د بي بي حاجي خبرې دومره خوږې او پر ځای وې، چې له واړه تر زاړه به غوږ ورته نیولی ؤ او ډاکتر عاقلې به هم د زړه له کومې موضوعات یادول او په ورین تندي به یې توضیح کول او په شونډو به یې تل د مهرباني موسکا وه. الله دې پرې ورحمېږي.

د ۲۰۱۱ میلادي کال په ترخ کې یې یو زوی او یوه لور د لوړو زده کړو لپاره کابل ته راغلي ول، چې زوی یې په انجینیري او لور یې د طب په پوهنځي کې په زده کړو بوخت ول او د خپل تره کره اوسېدل، نو مور به یې د دوی د لیدلو لپاره تل له غزني کابل ته راتلله، نن د جمعې ورځ هم له غزني کابل ته روانه وه، خو دا ځل یې د دیدار نصیب نه ؤ، چې خپل ماشومان یې له نږدې لیدلي وای، ژوند یې د یرغلګرو صلیبیانو په ګولۍ پای ته ورسېد او زړه یې له ارمانونو ډک تر خاورو لاندې شو. خپل واړه ماشومان یې د آزموینې نړۍ ته یوازې پرېښودل.

بي بي حاجي د شهادت جام په سر واړاوه او د یرغلګرو کفارو لخوا په شهادت ورسېدله، شهادت دې یې خدای قبول کړي. د خدای له درباره ورته د فردوس جنتونه غواړم او کورنۍ او دوستانو ته یې د جمیل صبر. الله دې زموږ پرخلکو او مسلمان ولس ورحمېږي او زموږ خلکو ته دې د دې همت ورکړي، چې خپل ځپېدلی او ځورېدلی ولس د یوویشتمې حبا نه خلاص کړي. الله تعالی دې لوېدیزوال نور هم ذلیل کړي او په تورمخ دې یې له افغانستانه وشړي او افغانانو ته دې خدای (ج) د یووالي او وروروليي همت ورکړي، چې د افغانستان د خپلواکي او د خپلو خلکو د خدمت جوګه شي.

ومن الله التوفیق


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ